## مطبوعاتي اعلامیه

## د افغانستان ماشومان له لوږې مري، خو نړیواله ټولنه یې د ژوند په بیه سیاست کوي

د ملګرو ملتونو د راپور له مخې، افغانستان د نړۍ تر ټولو ناوړه بشري ناورین ته د رسېدلو په حال کې دی، چې نیمايي وګړي یې د سختې وچکالۍ، دوو لسیزو غربي اشغال او د بشرپاله مرستو د وتلو له امله له سختې لوږې سره لاس او ګرېوان دي. پر هېواد د طالبانو له واکمنۍ وروسته، نړیوالې ټولنې او امریکا د افغانستان د میلیاردونو ډالرو شتمني کنګل کړه، د خوړو نړیوال پروګرام اجرایوي مشر ډېویډ بیسلي ویلي: «په افغانستان کې ۹۵ سلنه خلک کافي خواړه نه لري او نږدې ۲۳میلیونه یې د لوږې له لوړ خطر سره مخ دي، چې د خوړو مصئونیت یې تقریباً له منځه تللی دی.» هغه دا هېواد له ناورین سره لاس او ګرېوان او «د ځمکې پر سر دوزخ» وبللو. ۱۴ میلیونه ماشومان یې له لوږې سره لاس او ګریوان دي، په داسې حال کې چې د خوړو نړیوال پروګرام او یونیسف خبرداری ورکړی، چې د ژوند ژغورنې له بیړنۍ درملنې پرته، یو میلیون ماشومان د شیدو د خوارځواکۍ له امله د مړینې له خطر سره مخامخ دي. ډېری یې ان له وړاندې پر خوارځواکۍ اخته دي او پر لږو خوړو پایي. لکه څنګه چې د ژمي سختې میاشتې مخ په رانږدې کېدو دي، داسې اټکل کېږي چې په افغانستان کې زموږ د امت وضعیت نور هم مخ پر خرابېدو دی.

د نړیوالې ټولنې، نړیوال بانک او د پیسو نړیوال صندوق له لوري د دې خاورې لپاره چې مرستو ته اړتیا لري، د میلیاردونو ډالرو مرستو بې رحمه تعلیق او د امریکا له لوري پر داسې اقداماتو لاس پورې کول، تر څو په هېواد کې نوې رهبري نیږدې ۱۰ میلیاردو ډالرو ته لاس رسی ونه مومي، بهرني ذخایر، د نغدو پیسو لپاره د خلکو اړتیا، د اقتصاد ویجاړول، د روغتیایي چارو کمزوري کول او د نورو عمومي خدماتو نه وړاندې کول د دغه بشري ناورین لامل شول. له دغه اقدام څخه هدف د طالبانو پر دولت فشار راوړل دي، چې د اسلام داسې نسخه پرې اجرا کړي چې له لیبرال او غربي سیکولار سلیقو سره مخالفت ونه لري. له همدې امله، غربي قدرتونه او نړیواله ټولنه لوږه او وچکالي پر داسې وسله بدلوي، تر څو هغه سیاسي برنامې چې د ۲۰ کلن اشغال په اوږدو کې یې د نظامي قدرت او زور له لارې تر لاسه نه شوای کړای، له دې لارې یې ترلاسه کړي او اوسنی حکومت اړ کړي، چې سیکولار لیدلوری خپل کړي. دوی په ډېره سپین سترګۍ ادعا کوي چې د دوی اقدامات د امنیت ټینګښت او د افغانستان د ښځو او نجونو د حقوقو تأمین دی، خو دا هماغه ښځې او ماشومان دي چې د ولس د همدې اقتصادي کړکېچ له امله  له لوږې، روغتیایي خدمتونو او له هر ډول مثبت راتلونکي څخه بې برخې دي. د بشري حقونو د څار سازمان په وینا، "په افغانستان کې مالي ناورین په ځانګړې توګه ښځې او نجونې اغیزمنې کړي دي،

چې د خوړو، روغتيا پاملرنې او مالي سرچينو ته د لاسرسي په برخه کې په غير متناسب ډول له خورا ډېرو خنډونو سره لاس او ګرېوان دي."

موږ په طالبانو کې پر خپلو ورونو غږ کوو چې ستاسو د سترګو پر وړاندې دغه بشري ناورين، د بهرنيو بنسټونو او قدرتونو په مرستو پورې د تړاو مستقيمه پايله ده. په واقعيت کې، د ملل په څېر سازمانونه د افغانستان په څېر خاورو لپاره د مرګ وړاندوينې خپروي، په داسې حال کې چې هغه قدرتمند هېوادونه چې د دوی غړي دي، دوی خپله د ملت پر سر دغه د بدبختۍ شبکه راڅرخوي. د دوی د مرستو ژمنې بې مانا دي او پر اسلام ضد شرايطو او پروګرامونو ککړې دي. ايا په افغانستا کې د ۲۰ کلونو مرستو څه شی رامنځ ته کړل، پرته له دې چې يو کمزوری اقتصاد يې دوی ته په ميراث پرېښود، هغه هېواد چې په بهرنيو مرستو پورې تړلی دی او د نړۍ په کچه دويم هېواد دی چې خلک يې له بېړنۍ لوږې سره لاس او ګرېوان دي... او اوس لومړی کېږي؟

تر هغه وخت پورې چې د اسلام جامع ليدلوری، د خلافت دولت له لارې په افغانستان او اسلامي نړۍ کې تطبيق نه شي، چې د «دولت ـ ملت» سيکولار موډل له نظره وغورځوي، چې په بهرنيو دولتونو پورې ځان تړي، د افغانستان او سيمې راتلونکې به داسې وي، چې دايمي بې ثباتي، اقتصادي ناورين او تل به د پرديو په منګلو کې وي، د دښمنانو د دښمنۍ او رحمت په اړه الله سبحانه وتعالی فرمايي:

**{فَإِمَّا يَأْتِيَنَّكُم مِّنِّي هُدًى فَمَنِ اتَّبَعَ هُدَايَ فَلَا يَضِلُّ وَلَا يَشْقَى * وَمَنْ أَعْرَضَ عَن ذِكْرِي فَإِنَّ لَهُ مَعِيشَةً ضَنكًا وَنَحْشُرُهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ أَعْمَى}**[طه: ۱۲۳- ۱۲۴]

***ژباړه:*** *اوس که زما له لوري تاسو ته کوم هدايت ورسېږي، نو څوک چې د هغه د هدايت پيروي وکړي، هغه به نه ګمراه شي او نه به په بدبختۍ کې اخته شي او څوک چې زما له ذکر (د نصيحت له درس) څخه مخ واړوي، د هغه لپاره به په دنيا کې تنګ ژوند وي او د قيامت په ورځ به موږ هغه ړوند راپاڅوو.*

**ډاکټر نسرين نواز**

**د حزب التحرير- مرکزي مطبوعاتي دفتر د ښځو برخې مشره**

**۱۴۴۳هـ.ق، د ربيع الثاني ۱۹مه**

**۲۰۲۱م، د نومبر ۲۴مه**

**د صدور گڼه: ۱۴۴۳ / ۰۱۷**

**#Afghanistan**

**#أفغانستان**

**#Afganistan**